
د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا پر لیکه کیږي:

www.taleemulislam-radio.com

٧

الغیبة اشد من الزنا (طبرانی)

# د غیبت عذاب



وعظ

د شیخ المشائخ فقیه العصر مفتي اعظم

حضرت مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوی

رحمه الله تعالی

مترجم

مفتي محمد معصوم افغاني




مکتبه حکیم الامت تهانوی

عالمي روډ کوټه

د موبائل شمیره: 0333-7897276

٧

الغيبة اشد من الزنا (طبرانی)

# غیبت عذاب

وعظ

شیخ المشائخ، فقیہ العصر، مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی رشید احمد لدھیانوی

رحمہ اللہ تعالیٰ

مترجم

مفتی محمد معصوم افغانی

مکتبہ حکیم الامت تھانوی

کاسی روڈ کوئٹہ

# کتاب پېژندنه :-

نوم : دغیبت عذاب
وینا : دفقیه العصر، مفتي اعظم، حضرت مولانا
مفتي رشید احمد لدهیانوي رحمة الله علیه
ژباړه: مفتي محمد معصوم افغاني
سلسة الدعوة والارشاد ع ۷
کمپوزر: محمد وصیل "پېروز"
کمپوز: دالفرقان دژباړې او کمپوزاداره
چاپ شمېر: یوولس سوه ټوکه
چاپ کال: ۱۴۲۹ هـق رجب

---

**دلاس ته راوړلوځایونه :-**

مکتبه حکیم الامت تهانوي کاسي روډ کوټه
مکتبه غفاریه کندهار
مکتبه نظیفیه الاصف سهراب ګوټهـ کراچی.
مکتبه رشیدیه پېښور

# لړلیک


| شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سریزه | ۱ |
| ۲ | غیبت څه ته وایي؟ | ۹ |
| ۳ | دغیبت لوی عذاب | ۱۰ |
| ۴ | دزړه روحاني غذاء | ۱۱ |
| ۵ | دغیبت کؤنکي مثال | ۱۴ |
| ۶ | دغیبت دنیوي عذاب | ۱۵ |
| ۷ | سرزنښ هغه چاته..... | ۱۶ |
| ۸ | پرګناه باندي دسرزنښ | ۱۸ |
| ۹ | دنارینؤزینت ږیره | ۲۳ |
| ۱۰ | دګناه لومړی حمله.... | ۲۵ |
| ۱۱ | غیبت ترزناهم ناوړه | ۳۱ |
| ۱۲ | دعزت غل دمال تر.... | ۳۴ |
| ۱۳ | دآخرت مفلس | ۳۵ |
| ۱۴ | داعمالو محاسبه | ۳۶ |
| ۱۵ | پرغیبت باندي د.... | ۳۷ |
| ۱۶ | دغیبت دنیوي تاوان | ۳۸ |
| ۱۷ | له غیبت کولو څخه... | ۳۹ |
| ۱۸ | له غیبت اورېدلو.... | ۴۰ |
| ۱۹ | یوه درس ورکؤنکي | ۴۱ |
| ۲۰ | دېراسانه تدبیر | ۴۲ |
| ۲۱ | له هري فضول خبري | ۴۳ |
| ۲۲ | یوه له پنده دکه کیسه | ۴۳ |
| ۲۳ | دکومو خلکو چي.... | ۴۵ |

## بسم الله الرحمن الرحیم

## سریزه

غیبت یو فضول او لایعني عمل دی، غیبت یو ناوړه کار دی، دا یوه لویه ګناه ده، چي ناوړتوب یې په قرآن کریم، نبوي احادیثو او د عارفینو په ویناؤکي په ډېروضاحت سره بیان شوی دی. غیبت هم داسي لویه ګناه ده لکه شراب څښل، زنا کول، دسود را کړه ورکړه چي حرام او په لویو ګناهونوکي داخل دي. دغه واړه منکرات قطعي حرام دي غیبت هم د غه شان په یقیني ډول حرام دی، بلکه دغیبت ګناه له دې کبله تردغونوروګناهونولویه اودرنه ده چي ددې اړیکې له حقوق العباد سره دي او دبندګانو دحقوقو مسئله داده چي ترڅو یې بنده معاف نه کړي هغه نه معافیږي نورګناهونه په توبه سره معافیږي خودغیبت ګناه په توبه سره نه معافیږي ،له دې څخه اندازه کیدای شي چي څومره لویه او خطرناکه ګناه ده؟

قرآن کریم چي دغیبت لپاره څومره درانه الفاظ راوړي له دې څخه یې هم ناوړتوب څرګندیږي ،الله ﷻ ارشاد کوي:

ولایغتب بعضکم بعضا ایحب احدکم ان یأکل لحم اخیه میتا ، فکرهتموه .یعني دیوبل غیبت مکوئ څکه چي دا داسي ناوړه عمل دی لکه دخپل وروړغوښي خوړل، له تاسو څخه یو داخوښوي چي د خپل مړه ورړغوښې وخوري؟ داخو تاسي ډیره بده ګڼی.

له دې امله چي تاسي دغه عمل بدګڼئ نو غیبت هم بد او ناوړه وګڼئ دغیبت کولو نه ډډه وکړئ، په دې کښې فکروکړئ چي الله ﷻ دغیبت څومره بدوالی بیان کړی دی یو خو دانسان غوښې خوړل یعني ځان آدم خور ګرزول څومره بده خبره ده او انسان هم کوم انسان خپل ورورو

اوورورهم ژوندی نه بلکه مړ وروردمړه ورورو غوښې خوړل څومره ناوړه عمل دی؟

حافظ ابن القیم رحمه الله د دې آیت په باب عجیبه تحقیق کړی فرمایي:-

① په مبارک آیت کښې یې غیبت کولو ته دمړه ورورد غوښو خوړلو سره تشبیه ورکړېده، د دې یوه وجه داکیدای شي چې کوم سړی په غیاب کښې دخپل مسلمان ورورعزت داغداره کوي داداسي وفهموه لکه دیوه وروررروح چې دمړګ له کبله وتلی وي اودی یې په پرېکولو سره دده غوښې پرې پرې کړي بیایې وخوري.

② په کوم مجلس کښې چې غیبت کیږي څرنګه چې دبل دغیاب له امله هغه خپله دفاع نشي کولای، نوداداسي وګڼه لکه یوڅوک چې دمړي غوښې پرې کړي اوهغه خپله دفاع نشي کولای.

③ دورورګلوي غوښتنه خوهرڅول دغم خواري اوهمدردۍ مظاهره وي مګرغیبت کوُنکی دبدوالي، عیب پلټنې، طعن اوبدرد ویلو په ذریعه د دې برعکس معامله وکړه یعني دورورپرذمه خود ورورهرڅول حفاظت اوساتنه ده، مګردده دغوښوپه پرېکولوسره یې دذمه وارۍ اومسئولیت احساس ختم کړاوددې عملي ثبوت یې وړاندي کړ.

④ غیبت کوُنکی دبل په بدویلواوعیب پلټنې سره په خپل خیال دېرخونداخلي د دې مثال یې داسي بیان کړلکه یوڅوک چې دمړه ورورغوښې وشکوي اوخوندتري اخلي.

حاصل داچې دیومعقول شي تشبیه یې له محسوس سره کړېده د دې لپاره چې انسان په دې پوه شي چې څرنګه دمرداري غوښې په خوړلوسره سخت نفرت کیږي، له دې کبله دعقل، فطرت اوحکمت غوښتنه ده چې دمړي دغوښې له خوړلوڅخه هم له غیبت نه ډېره کرکه په کارده. (تفسیرابن قیم ص: ۴۴۲)

عبدالله بن عمر رضی الله عنه یو سړي ولید چې هغه دحجاج غیبت کاوه ده ورته وویل: که حجاج دلته وای تا دیې په وړاندې عیب بیانوی اوکه نه؟ده په ځواب کی وویل: نه!

عبدالله بن عمر رضی الله عنه وفرمایل چې اصحابانو رضی الله عنهم دغه عمل دحضرت رسول کریم ﷺ په حضور کښې منافقت ګڼلی چې دخلکو په مخ کښې خوږې تعریف وکړې اوترشایې غیبت اوشکایت وکړې.

(احیاء العلوم، باب الخوف)

علامه محمد عبدالحی لکهنوی رحمة الله علیه فرمایې چې یوه ورځ مې ځنې خلکوته وویل چې تاسې څومره اوعجبه بې مروته خلک یاست چې دخلکو په حضور کښې خو دهغوئ تعریف اوچاپلوسي کوئ اوپه غیاب کښې دهغوئ بدوالی بیانوئ هغوئ په ځواب کښې راته وویل چې داخو حسن اخلاق دی یعنې ښه عادت اوښه اخلاق لرل اوالله تعالی درسول الله ﷺ په مبارک شان کښې فرمایې:

(وانک لعلی خلق عظیم) اوته ښه اخلاق لرونکی یې.

ولې چې حضرت رسول خدا ﷺ دچاپه وړاندې دچا بدنه ویل دغه ډول مورډهم ویوچاته دهغه په مخ کښې دهغه بدعمل نه بیانوو چې هغه په تکلیف نه سئ، علامه لکهنوي رحمة الله علیه په ځواب کښې ورته وفرمایل چې حضرت محمد ﷺ چې څه ډول مخامخ وچاته بدنه ویل دغه ډول یې دهغوئ په غیاب کښې هم غیبت نه کاوه مګر دیو عارض یا دیني فایدې له امله اوتاسې یې مخامخ تعریف کوې اوپه باطن کښې بغض ورسره لرې داحسن خلق نه بلکه منافقت دی.

(زجر الشبان والشیبة عن ارتکاب الغیبة ص:۱۱۲)

اونن زمان پـه وګړو کښې دغه عمل زیات دی چې مخامخ دمحبت او وروروګلوی اظهار کوې اوپه غیاب کې بدرد وربانديې وایې.

حضرت زین العابدین رحمة الله علیه یو سړې ته چې په غیبت بوخت وویل خپل ځان دغیبت نه وساته ولې چې دادسپو کتـغ (خور که) ده غیبت

کوڅـکی دمـړه وروردغوښو خـوړلوغوندي دی ،ښکاره خبره ده چي دمړي غوښې خوړل او هډوکي چیچـل دسپـو کاردی نوغیبت کوڅکی دسپو په شان شوه ولي که انسان وای نوپه ده کښي به دانسان صفت وای اوپه انسان کښي حیاوي ځکه هغه دچاغیبت نه کوي.

دحضرت فاروق اعظم ﷺ ارشاددی:-

ای انسانه اته پرخپل ځان باندي دالله ذکرکول لازم کړه ولي چي دا شفاء ده اودغیبت نه ځان وژغوره ولي چي داناروغي ده.(زجرالشبان)

نن زمان غیبت زموږد مجلسونو زینت ګرځیدلی دی دتأسف خبره خوداده چي دپرځله دغـیبت موضوع هغه ځوانان دي چي دیهودواو نصاری دپه محبسونوکي په کلونوکلونوپراته دي چي الله عزوجل به ددې کړاؤنوپه بدل کښي تولي خطـاوې ورمعاف کړې وي بلکه نوربه یې په اوچتومقاماتواودرجوسره نـازولي وي اویـادالله عزوجل هغه مقربین بندګـان دي چي دحق په لاره کښي دشهادت واعلی مقام ته رسیدلی چي حق سبحانه وتعالی ترتولوګناهونوورتیرشوی اوبشپړه بخښنه یې ورته کړیده.

دداسيَ صالحواومجاهدوانسانانوغیبت کول ډیره دبدبختی نښه ده،په یوحـدیث شریف کي راغلي چي له بنده څخه دالله ﷻ دناخوښي نښه داده چي انسان په بې کاره اوفضولوخبرواواعمالوبوخت سي.

رفیقي که غائب شداې نیک نـام — دوچیزاست ازوبررفیقان حرام
یکی آنکه مالش به باطل خورند — دوم آنکـه نامش بزشتی برند
ترا آنکه چشم ودهن داد وګـوش — اګرعاقلی درخلافش مکوش
زبان آمدازبهر شـکرو سپـاس — بغیبت نګرداندش حق شـناس
منـه دل دریـن دیر نـاپایـدار — زلسعدي همین یک سخن یاددار

په پل مسلمان پسي بدردویل به په آخرت کښي ماراولړم وي چي انسان به چیچي لکه عارف رومي رحمة الله علیه چي فرمایي:

آن سخنهای چو مار وکژدمت — ماروکژدم ګشت رومی ګیرددودست

شیخ سعدي رحمة الله علیه یوه شپه د پلار سره د تهجد د لمانځه لپاره را پورته شو لمونځ چي یې ادا کړ څه خلک ویده ؤ شیخ سعدي وویل چي دوئ خوویده دي د تهجد لمونځ یې ونکړ پلار یې ورته وویل چي تر د غسي تهجد کولو چي وروسته د مسلمان غیبت وکړي ښه داده چي ته هم ویده وای، د ګناه څخه به خو به خوندي وای، د دین هغه خدمت چي ورپسي د مسلمانانو غیبت کول وي هیڅ ګټه نه لري، بلکه په غیبت سره یې خپل ټول هاند او هڅې ضایع کړي.

اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَامِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَاوَمِن سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا

شریعت د بشري ضروریاتو له کبله په ځیني مواردو کي وغیبت ته جواز ورکړی دی هغه صورتونه په لاندي ډول دي:

① د ظلم د ختمولو په اړه د هغه چا په وړاندي چي د ظلم د ختمولو قدرت لري د یو چا غیبت کول.

② د منکر د ختمولو په نیت د قدرت لرونکي په وړاندي غیبت کول.

③ د شرعي حکم د معلومولو لپاره د مفتي په حضورکي غبیت کول خو نوم پټ لرل ښه دي.

④ د یو چا له شر څخه د ځان د ساتني لپاره د هغه غیبت کول لکه پر شاهدانو او راویانو جرح کول.

⑤ هغه کسان چي په ښکاره ګناه کوي د هغو غیبت کول.

خو د لته هم فقط د هغې ګناه بیانول جایز دي کومه چي یې په ښکاره کوي د پټو ګناهو نو بیانول جایز نه دي.

⑥ د تعارف لپاره د یو چا عیب بیانول لکه اعور، اعمش او داسي نور. دا په دې شرط چي له دې پرته تعارف ناممکن یا مشکل وي.

(وتفصیل البراهین فی احسن الفتاوی ج:۸ ص:۱۹۴)

د غیبت په اړه ډیر وړوکي او غټ کتابونه خپاره شوي دي د علامه محمد عبد الحي لکهنوي رحمة الله علیه کتاب زجر الشبان والشیبة عن ارتکاب الغیبة، ښه جامع او مفصل دی چي په

۲۹۰ مخونه کښي دی خوماد شیخ المشایخ ،فقیه العصر، مفتي اعظم حضرت مولانا مفتي رشید احمد لدهیانوي رحمة الله علیه مختصر او جامع وعظ "دغیبت عذاب" دژباړي لپاره منتخب کړچي په دې کښي دغیبت په اړه ښه جامع، په زړه پوري، اغېزمن او په لنډ مضمون کښي بیان شویدی اوهم دغیبت نه دحفاظت نسخې بیان شوې دي.

حضرت مولانا مفتي اعظم قدس سره دعلم او عمل یوه عظیمه څېره وه دمبارکو سنتونو کامل اتباع کوونکي ودتقوی معیار یې دسلف صالحینو په شان وچي دابه دده دمبارک ژوند څخه صفا برښېدل او هر چاچي یې صحبت غوره کړی دا ورته څرګندېده چي دا تقوی داوس عصرنه بلکه دسوونو کلونو وړاندي معیاردی، له لغویاتو او غیبتونه دده مجلس ډېرپاک وَ الله عزوجل دکاملو مؤمنانو په صف کي راوستلی خپل ټول ژوند یې ددین او مسلمانانو په اصلاح او ارشادکي تیرکړی او مجلس به یې همیشه په حکمت نصیحت او فقهي مسائلو او ارشاداتو سره مزین وَ.

دده ژبه او غوږونه الله عزوجل دلغویاتونه خوندي ساتلي ډېرځله به چي یوچا عبث خبره یا دمسلمان غیبت کاوه نوده به ویل چي دامهال زه داخبره نسم فمولای یوړغ اورم خو په اصلي خبره نه پوهیږم، دسنتو ددې کاملې اتباع برکت وَچي یوه شیبه هم الله تعالی دی په لغو او عبث خبروکي نه بوختاوی بلکه دده هغه مریدان چي دده په صحبت مشرف شوي وَهغوی هم الله تعالی دې مقام ته رسولي وَچي دغیبت پروخت به الله تعالی دوی له غوږونو څخه اوریدل سلب کړل، دتقوی ددې معیار له کبله الله تعالی دده په

مواعظو کي ډيراغيزاېښې چې اوس هم زيوال دده له اثراتونه استفاده کوي.نورستاسواودحضرت مفتي اعظم رحمه الله ترمنځ خند نه ګوزم الله ﷻ دې موږتولوته دعمل توفيق راپه برخه کړي آمين!

محمد معصوم افغاني

۱۸-ربيع الاول ۱۴۲۹-ه ق

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره ونؤمن به ونتوكل عليه ونعوذبالله من شرور انفسناومن سيئات اعمالنا،من يهده الله فلا مضل له ومن يضلله فلاهادئ له،ونشهدان لااله الاالله وحده لا شريک له ونشهدان محمداعبده ورسوله صلى الله تعالى عليه وعلى آله وصحبه اجمعين .

امابعد:فاعوذبالله من اشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ

(۴۹-۱۲)

نن زمان دغيبت ناروغى په ټولنه کي ديوې وژونکې وباصورت غوره کړى دى،دمشايخومجلس وي،که دعالمانو، دعوامومجلس وي که د خواصومجلس په هرمجلس کي يودبل غيبت اوبدى بيانيږي، هرسړى پربل باندي په تنقيد بوخت دى،هرلورته دغيبت بازارګرم دى.

نن به ددې قاتل مرض اولويې ګناه بيان کيږي اوله هغې څخه به دژغورنې تدبيرونه دربښودل کيږي، الله عزوجل دې وکړي

چي داخبرې پر زړونو اثرو کړي او پر هغو دعمل کولو توفیق رانصیب کړي.

په دې وعظ کي به دغیبت په اړه پنځه شیان بیانیږي:

① غیبت څه ته وایي؟

② دغیبت لوی عذاب.

③ له غیبت کولو څخه دحفاظت نسخې (طریقې)

④ له غیبت اوریدلو څخه دحفاظت نسخې.

⑤ دکوم چا چي غیبتونه شوې یا اوریدل شوې له هغوئ څخه دمعافي غوښتلو طریقې.

## ① غیبت څه ته وایې؟

غیبت دې ته وایې چي دیو چا واقعي عیب دهغه ترشا دبل په وړاندي په ژبه، اشاره او یا لیکلو سره په دې ډول بیان شي چي که هغه ته معلومات وشي نو خپګان به محسوس کړي، دې ته هلته غیبت ویل کیږي چي دا عیب واقعاً په هغه کي موجود وي که دا عیب په هغه کي موجود نوي نو دې ته الزام، افتراء او بهتان وایي چي د دې ګناه تر غیبت هم ډیره ده، ډیر خلک په دې اړه تیروتي دي چي دیو چا حقیقي عیب بیانول غیبت نه ګڼي، کله چي یو څوک دبل چا غیبت کوي او هغه ته وویل شي چي ته خو غیبت کوي نو هغه په ځواب کي وایې: نه! زه خو صحي خبره کوم؛ حقیقت درته وایم، زه دا خبره دهغه په مخ کي درته کوم، زه

وقعیت وایم، ددې سړي دا فکر غلط دی غیبت خو وایې ودې ته چې دیو چا حقیقي عیب دهغه تر شا دبل چا په وړاندې په داسې انداز بیان شي چې که هغه پرې خبر شي نو خفه کیږي.

## ②دغیبت لوی عذاب

دالله ﷻ ذکر کندا وښکاره حکم دی:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ۱۲

الله ﷻ په خپلو احکامو دعمل کولو داساني لپاره دنسخې په ډول مضمون په ،، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ،، سره پیل کړ.

د "اي مؤمنانو !" په ارشاد سره یې لو مړی دمحبت پیچکاری ورولګوله، د ایمان معنی دالله تعالی سره دعشق او محبت دعوی کول دي، نو مطلب داسو:

اي عاشقانو !دعشق او محبت دعوی کؤنکو !که تاسې دخپل ایمان او عشق په دعوی کښې رښتیني یاست نو زمونږ احکام ولې نه عملي کوئ؟ دای مؤمنانو !معنی ده اي عاشقانو ! دکوم چا په زړه کښې چې عشق دی هغه چې دغه خطاب واوري حیران به شي چې محبوب څه وویل؟نن خو محبوب دمبحت شراب راباندې وڅښل خپله یې زه عاشق وګڼلم، دعاشق په لقب سره یې خطاب وکړای زما عاشقانو !

دذي کلام په اورېدلو سره دمحبت په شرابو سره انسان مست شي نودحکم دعملي کولو لپاره ژرچمتو شي.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ) ژباړه :ای زماعاشقانو !پرېږدئ بل له بدګمانی څخه ځانونه وژغورئ.

غیبتونه خوځیني خو حقیقتاً عیبونه وي اوډېر بیا خالص اورېدل شوې خبرې په الزام او بهتان کي داخل وي له دې کبله یې ارشاد وکړ په خپلوزړونو کښي دنورو خلکو په باب فاسد خیالونه مه راوړئ چي فلانی داکوی اوفلانی داکوي داواړه خبرې پرېږدئ ولي چي:

ان بعض الظن اثم

"بېشکه بدګماني لویه ګناه ده ".

دنوروپه اړه څومره فاسد خیالونه په خپلوزړونو کي راوړئ دومره دالله تعالی دمحبت خیالونه ولي نه راوړي؟

**دزړه روحاني غذاء :**

په مناجاة مقبول کښي یوه ډېره عجبه دعاء ده:

اللهم اجعل وسلوس قلبی خشیتک وذکرک،واجعل همی وهوای فیما تحب وترضی!

"یاالله !زمادزړه وسوسې له خپلې ویرې اوذکر سره خاصې کړې او زما همت اوغوښتنه دداسي اعمالو لپاره ځانګړې کړې کوم چي تاته محبوب اوستاخوښ وي.

یا الله ! څرنګه چي تا ددې زړه ظاهر خالي نه دی پرې ایښی هر وخت په حرکت کښي دي که یو وخت ددې حرکت بند شي نو به انسان ژرمړ شي دغه رنګه دې ددې زړه باطن هم خالي نه دی پرې ایښی هر وخت انسان څه ناڅه فکر کوي، هغه که په لمانځه کي وي یا په بازار کي یا په بیت الخلاء کي وي یادونه خوري، هر وخت انسان په یو نه یو فکر کي بوخت وي، یا الله ! کله چي تا ددې زړه څخه دخالي پاته کېدلو صلاحیت ختم کړی دی، دادی پیدا کړی، دغه ډول په هغه کي یو نه یو خیال موجود وي نو بیا ددې زړه خیالات څه وي، هر وخت پر څه شي فکر کوي؟

خشیتک وذکرک "ستا وېره او ستا ذکر"

هر وخت په زړه کي دغه فکر وي، له دې پرته نور فکر و ته هیڅکله رانشي هر وخت ستا خبرې په فکر کي وي، ستا وېره او ستا ذکر هیڅکله زموږ له زړه نه ونوزي.

جب تک قلب رهی پهلو مین جب تک تن مین جان رهی
لب پر تیرا نام رهی اور دل مین تیرا دهیان رهی
جذب مین پران هوش رهین اور عقل مری حیران رهی
لیکن تجه سی غافل هرگز دل نه مرا اک آن رهی

ژباړه: ترڅو چي زړه په بغل کي وي، ترڅو چي په بدن کي روح وي پر شونډو به ستا نوم وي او په زړه کښي به ستا فکر وي په جذب کي به زما هوښ الوتلی او عقل به مې

حیران وي، خوستا (له یاد) څخه به زما زړه یوه شیبه هم غافل نوي.

کله چې داحالت شي نوددې اثراوثمره هم رانصیب کړي یعني (واجعل همتی وهوای فیماتحب وترضی) "یاالله! زماهمت اوزما مقصود هغه کارونه وګرځوې کوم چې وتاته محبوب اوخوښ دي یا الله! دتولوپه حق کښې دا دعاقبوله کړې. مخکې ارشاددی:

(ولاتَجَسَّسوُا) یوذبل دخبروتجسس یعني پلټنه مه کوئ دخپل ځان فکرکوه، دخپلو اعمالو محاسبه کوي، دمرګ لپاره دي څه تیاری کړی اودآخرت لپاره دي څه سامان برابرکړی اوکنه؟

نه تهی حال کی جب همین اپنی خبر
رهی دیکهتی لوګون کی عیب وهنر
پړی اپنی ګنا هون پر جو نظر
تو نګاه مین کوی برانه رها

ژباړه: کله چې موږ دخپل حالت نه غافله و، نوموږ دنورو خلکو عیب اوکمال ته کتل خوکله چې موبیاپرخپلو ګناهونو باندې نظروکړ نوموږ بل څوک بیابداو ناوړه ونه لیدل.

دنوروعیبـونوته هغه څوک ګوري چي دخپل حـالت نه ناخبره وي چي زماسره څه پیښیدونکـي دي؟دځان فـکر کوه،دنوروفکرمه کوه!

**دغیبت کؤنکي مثال :**

وړاندي فرمایي :وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً

"یودبل غیبت مه کوئ"

اي دعشق دعوه کؤنکي !دازموږحکم دی که موله موږ سره محبت وي نوپه عمل سره یې ثابته کړئ چي یودبل غیبت مه کوئ،کوم څوک چي دیوچاغیبت کوي دهغه مثال یې بیان کړی دی فرمایي : أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ

ایاتاسي داخوښوئ چي تاسي دخپل مړه وروروغوښې وخورئ؟دا خوستاسو نه ده خوښه.

ټول مسلمان په خپل منځ کي یوله بله سره وروڼه دي لکه چي ترديږ آیت مخکي ارشاددی:

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ اِخْوَةٌ(۴۹ –۱۰)

ټول مسلمان په خپل منځ کي یوله بله سره وروڼه دي.

له دې کبله دخپل یومسلمان ورورغیبت مه کوئ بلکه دا خو دانسانـیت له حقوقوڅخـه دی،ځکـه نودیوکافرهم غیبت جایزنه دی کوم څـوک چي دیوچاغیبت کوي هغه دومره لویه ګنـاه،ناوړه او بد عمل وکړلکه دخپـل مړه ورو

غوښې چې يې وخوړې .ايا يــو څوک دا خوښولای شــي چې
هغه دي ديوانســـان غوښې وخوري، هغه هم ديو مړي او د
خپل مسلمــان ورور ؟کله چې داکار(دمسلمان ورورغوښې
خوړل)دهيچاپه عقيده هم صحي اوخوښ نه دی بلکه د پر
ناوړه او دانسانيت له دائرې څخه وتلی دی،نوديوچاغيبت
کول ولي خوښ اودانسانيت په دائره کښي راتلای شي؟.

## دغيبت دنيوي عذاب

په دې اړه درسول الله ﷺ ارشادات واورئ:

(۱) درسول الله ﷺ په زمانه کښي پردووښځوباندي روژه
وغمېده اوپه نس کي يې سخت دردشو،ومرګ ته نژدې
سوې،دګناه په کولو روژه د پـره غـمـيـږي کـوم خلـک
چي ګـناه کوي هغوئ که کله روژه ونيسي نوله روژې نيولو
څخه د پرپه تکليفيږي چي اوس مړه شوو اوس مړه شوو . او
کوم خلک چي ځانونه له ګناهونوڅخه ژغوري هغوئ په
روژه هيڅ خبرنه وي چي څرنګه تېره شوه .

رسول الله ﷺ ددې ښځوپه اړه خبره کړل شورسول الله ﷺ
هغوئ را وبللې اوددواړوپه مخ کي يې لوښې کېښودل او
ويې فرمايل په دې کښي قی وکړئ هغوئ قي وکړنودوينې
اوغوښوټوټې راووتلې ، رسول الله ﷺ وفرمايل هغوئ دالله
تعالی په حلال رزق سره روژه ونيوله اوپه حرام سره يې
ماته کړه ،دغه شان چي دواړه ښځود خلکو غوښې وخوړلې.

يعني له همدې کبله پرهغوئ روژه وغمېده، په تکليف شوې اوله خولې يې مردارې غوښې ووتلې.
(رواه احمد وابويعلى والبيهقي)

۲ رسول الله ﷺ وبعضي خلکوته ارشادوکړ: والله! زه ستاسو په غاښونوکي دفلاني غوښې وينم. دغو خلکو دهغه سړي غيبت کړی ؤ.
(تنبيه الغافلين للسمرقندي ۱۲۵ مخ والدرالمنثور السيوطي ۷ ټوک ۵۷۲ مخ)

۳ يوې ښځې ديوچاغيبت وکړ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل توکړه هغې توکړه نودغوښې يوه ټوټه راووتله. (الدرالمنثورللسيوطي ۷ټوک ۵۷۳مخ)

## سرزنش هغه چاته کيږي چي دآخرت فکرورسره وي

پردغواحاديثو يوڅوک دانيو که کولای شي چي زموږ خو شپه او ورځ دغه غذاء ده چي چيري کښېنو ديوبل غيبت کو مګرموږنه هيڅکله غوښې اووينې قى کړې، نه موپرنس دردشوی اونه موهم له غاښونوڅخه دغوښوټوټې راوتلې، دلته خوهيڅ هم نه وزي؟

ددې دوه ځوابه دي:

۱ کله چي دالله تعالى يوحکم يادرسول الله ﷺ يوارشاد مخې ته راشي نوهغه به پرته له چون وچراتسليموئ دهغه په حقيقت ياحکمت باندې پوه شی اوکه نه، زموږکارفقط پرحکم باندې عمل کول دي، دحکم تعميل پرحقيقت پوهنه اودحکمت په پلټنه موقوفول دعبيدت خلاف کار دی،

دمالک حکم دی هغه به صحي تسلیموي او پردې به عمل کوي، که دې په زړه کښې لږ شک او شبه هم وي نو ایمان له لاسه ورکوي.

(۲) دالله عَلَيْهِ له لوري پر ګناهونو باندي سرزنښ او تنبیه فقط وهغو کسانو ته ورکول کیږي چي دهغوئ په زړونو کي دآخرت څه فکروي پر ګناؤ باندي دالله تعالی له لوري سرزنښ نه کېدل دهغه فضل نه عذاب دی پریو ګناه باندي دالله تعالی له لوري څخه دسرزنښ معامله پر انسان باندي دالله تعالی کرم او دهغه نفرت وي چي بیاله دې ګناه څخه ځان وژغوري لکه چي الله تعالی فرمايي:

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ

او موږ په هغوئ باندي دنژدې عذاب هم ترغت عذاب څخه وړاندي څکوددې لپاره چي هغوئ دګناهونو نه خپل ځان نه وساتي.

ددې دنیوي تکلیف څخه وهغو خلکو ته هدایت کیږي چي په هغوئ کي صلاحیت او داخرت فکروي او کوم چاچي ودوږخ ته تلل فرض کړي وي هغوئ ته ددنیوي عذاب څخه هدایت نه کیږي.

کوموکسانو ته چي پریوه ګناه باندي دالله تعالی له لوري کومه تنبیه نه کیږي هغوئ دي دانه فهموي چي دا پر هغوئ

دالله ﷻ فضل اوکرم دی اودهغوئ له موجوده حالاتواو ظاهري دینداری څخه الله تعالی راضي دی،داسي هیڅکله نه ده.دا دالله تعالی فضل او کرم نه بلکه استدراج دی،دداسي خلکوپه باب الله ﷻ فرمایي:

وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ ۴۲ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ (۱۴-۴۲-۴۳)

ژباړه :اومه کوه ګمان (ای انسانه !)چي الله ﷻ غافل (بې خبره )دی له هغوکارونوچي کوی ئې ظالمان،بېشکه هم داخبره ده چي وروستی کوي دوئ هغې ورځې ته چي خلاص به پاته وي (له ډیري ویري )په هغه کي سترګې چي منډې وهونکی به وي دا(مخلوقات)چي جګ (اوچت) نیؤنکی به وي دسرونو خپلو(په طرف دبلونکي محشر کښي)بېرته به ګرزي دوئ ته رپول دسترګودوئ اوزړونه ددوئ به تش وي (له عقله اوفهمه له ډیرې ویرې).

## پرګناه باندي دسرزنش دعبرت کیسې

① دحضرت مرزامظهرجان جانان رحمه الله تعالی وحلق ته که یو وخت یوه مشتبه ګوله ورسېدله نوخپله به یې قی وشو،حرامه ګوله نه فقط شکمنه ګوله په خوړلوسره به یې قی کېدی،دلته ګوله وحلق ته ولاړه هلته به قی وشو. او خلک به شپه اوورځ حرام خوري هغوئ ته هیڅ نه پیښیږي

،ددې حقیقت هغه دی چې دورمي ښودلې چې د الله تعالی دغه شان نصرت،کومک اومهرباني دهغوخلکوسره وي کوم چې دګناهونونه ځانونه ژغوري داسي خلکوته سرزنښ اوتنبیه کیږي.

② دجامعه دارالعلوم کراچۍ دیوصالح طالب العلم کیسه ده صالح طالب العلم نن زمان ډېرلږموندل کیږي دغه طالب العلم وماته خپل یوخوب بیان کړاوددې خوب نه وړاندي دده سره یوه پېښه شوې وه چې ددې له کبله هغه دغه خوب ولید ،هغه کیسه داده:

"ددارالعلوم په میدان کي درومیانویوجړونګ ؤپردې جوړنګ باندي درومي یوه دانه وچېدله،په زړه کي یې دغه خیال راغی که ما درومي دغه دانه ونشکول نودابه ضایع شي اودافکریې هم ورسره وکړچي دغه رومی هم ددارالعلوم دی اوزه هم ددارالعلوم یم نوددې په شکولوکي کوم باک نشته ،دغه فکرسره دهغه رومي وشکولی او ویې خوړ، دشپې هغه دغه شان یوخوب داسي ولیدهغه ویوبڼ ته ولاړ اودغــه ډول درومیــانویــوجوړنګ یې ولیدچي ورباندي دغه ډول درومي یوه وچه دانه ځړېدله هغه فکر وکړکه یې پري نکړي نودا به ضایع شي هغه یې وشکول اوویې خوړل، باغوان دی ونیواو مضبوط یې وواهه.هغه خپل دغه خوب اوکیسه وماته بیان کړه.ماورته وویل:

"وتاته ددارالعلوم پررومي خوړلو باندي ددې خوب په ذریعه سرزنښ وشو."

دلته څو خبرې د پام وړې دي:

① ددې طالب العلم سره کومه غټه کیسه نه ده پېښه شوې، فقط دروميي یوه دانه یې خوړلې وه زیاته نه.

② هغه دانه هم وچه که یې شکولې نه وای نو هغه ضایع کېدله.

③ هغه رومی ددارالعلوم ؤ دبهرنه وو اودغه طالب هم ددارالعلوم ؤ.

ددې ټولو خبروسره پردغه عمل باندي ورده ته تنبیه وشوه له دې امله چي دده په زړه کي دآخرت فکراود ګناهونو څخه دځان ژغورلو اهتمام وو، له دې کبله دالله تعالی رحمت کومک وکړاو خلک څومره غټې غټې غلاوې کوي اوشپه اوورځ حرام خوري هغوئ ته هیڅ تنبیه نه کیږي.

درینجا مردمان اند که دریامی خورند وآروغی نمی زنند

"دلته خوداسي حرام خواره دي چي دریاب ټول وخښي خو یو تیغ نه کاږي.

دغه کسانو ته له دې کبله سرزنښ نه کیږي چي په هغوئ کي دآخرت فکرنه وي، دادالله تعالی درحمت نه لیرې دي له دې کبله الله تعالی هغوئ په استدراج کي اچولي دي.

د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com

③ زماد ځواني کيسه ده کله چي لومړی ځل دحج داداکولولپاره ولاړم،دګرمی زمانه وه په مکه مکرمه کي ډېره ګرمي اوډېرې غوماشي وې،دکرايې لپاره موچي کوم کوراخيستی ؤپه هغه کي پنکې نه وې ،له دې کبله غوماشوډېرتنګولوکه مومچردانی لګوله نوحبس او ګرمي نوره هم زياتېدله،ددې برعکس په مسجدحرام کي خلاصه فضااود غوماشوهيڅ نوم اونښان هم نشته ،له دې امله ډېرنارينه او مېرمنې دخپلوورو ماشومانوسره په مسجدحرام کي پرېوتل ماشومانوبه هلته بولې او ګندګي هم کول چي په دې سره دمسجدډېره بې احترامې کېدله مادافرض کړي وه چي هرڅه وشي خوپه مسجدکي دپرېوتلو ګناه نه کوم مګريوځل څه وشوچي شپه ډېره تېره شوه خودغوماشود يرغل اوسختي تودوالي له کبله خوب نه راتلی اوپه سرمي ډېردرد وو،نفس يوچم راوښوی دا نفس ډېرشريردی،الله تعالی دحضرت يوسف عليه السلام خبره بيانوي:

(اِنَّ النَّفسَ لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّیْ)

"بېشکه نفس ډېربديوحکم کوُنکی دی مګرپرکوم چا چي زمارب رحم وکړي".

چي دالله تعالی نصرت اوکومک وي نوبیاانسان دنفس له شرارتو اوبدویونه ځان ژغورلای شي،نفس دا چم راوښوی:

"دادول به ترکومه ویښ پروت یې،نوله شپه به تېره شي بیابه نو دورځې چیري طواف اوعبادت کولای شي،ښایي چي دسهارلمونځ هم سم ونه وکړې،ولاړشه په مسجدحرام کی پرېوزه اوتأویل داوکړه چي داعتکاف نیت وکړه . معتکف شه یوطواف وکړه بیاهلته پرېوزه،دمعتکف لپاره په مسجدکي پرېوتل جایزدي ."

دافکرمي وکړاودمسجدحرام ولوري ته وخوځېدم،په لاره کي نفس یوبل چال راوښوی اوس به څه طواف کوې هسي هم ډېرناوخته شوي دي،دطواف لپاره خوبه اول اودس کوې،نونوربه نـاوخته شي اوس هـسي دالله نوم واخـله داعتکاف په نیت سره پرېوزه نونفس معتکف کړم اوویده شوم،کله چي پرېوتلم نویوخوب وینم،له حجر اسود څخه یونورراووت چي دفټ بال غوندي ګول اودومره غټ ؤاود سپوږمۍ غوندي روښانه ؤ ،هغه دبیت الله طواف وکړاواوه شوطه یې بشپړکړه هلته په حجراسودکي غایب شو.له دې وروسته مي ولیدل چي دباب البیت سره ناست یم "خلک خوورته باب البیت وایي زه ورته باب الکریم "وایم زمادکریم رب دروازه.

یوځل مې دمکې مکرمې څخه یوراغلې لیک ځواب ولیکه په هغه کې مې داهم ولیکل :زمالپاره له باب الکریم سره دعاراته وکړه.

هغه یوغټ کاغذواخیست په هغه کې یې دمسجدحرام دټولو دروازونقشه ولیکله دهرې دروازې نوم یې ولیکه اوټوله نقشه یې وماته راولېږله اودایې راته ولیکل ما ټولې دروازې وکتلې خوهیڅ ځای مې هم باب الکریم نه ولید ،ماپه ځواب کې ورته ولیکل چې کله زه درسم نوبه وتاته باب الکریم وروښیم .دبیت الله دروازه ته زه باب الکریم وایم ,زمادکریم رب دروازه.

دخوب خبره روانه وه ،ماولیدل چې زه دبیت الله دروازې مخې ته ناست یم،دومره ګورم چې مخامخ رسول الله ﷺ تشریف لري دبیت الله دچت څخه دشاهین غوندې څوغټ غټ مرغان راولوېدل چې ډېرښائسته اوپه ښه رنګ وه پروزرنوباندې یې عجیب ښائست ؤ. ددې مرغانو پر وزرونوباندې داسې حسن اوښائست ؤلکه په نارینه ؤکې دډېرې ښائست.

**دنارینه ؤزینت ږیره :**

ددې سره سره به یوه دعقل خبره هم دروښیم .یومولوي صاحب وویل نن زمان خلک دښائست لپاره ږیره خروي تاسې دافکروکړئ چې په چرګانواوچرګوکې په چاکې

ښائست دپردی په چرګانو کي اوکه په چرګو کي؟هرسړی په دې پوهيږي چي په چرګ کي حسن زيات دی بيا فکروکړي چي دچرګ حسن په څه شي کی دی؟ښکاره خبره ده چي ددې ښائست دده پرسرياندي دتاج اوترمښوکې لاندي ږيرې اوشاته داوږدې لکۍ له امله دی.

که نن زمان يوږيره خريلی مسلمان وچرګ ته داووايي چي ته دغه د سرتاج،لکۍ اوداسي نوري دنارينه نښانې پريکړه،ښائسته به شې نوایاهغه به ښائسته شي؟په هغه کي به حسن راشي اوکه به بدرنګي؟هغه به څرنګه ښکاري؟ اوڅرنګه به ښکاري چي چرګ دی اوکه چرګه؟کېدای شي څوک يې چرګه وبولي وريسي شي چي هګۍ په واچوي اوکه يوبل چرګ په غلطۍ کي وريسې روان شي نوبيا؟

فکروکړئ چي الله تعالی ديونارينه حيوان په کوم شي کي ښائست ايښی دی دهغه په پاته کولوکي حسن دی که په پريکولوکي؟ دغه ډول نرطاوس اوماده طاوس ته وګورئ، دنرطاوس ښائست ترمؤنث طاوس دپردی،دده حسن دده دسرتاج اوښائست رنګه لکۍ له امله دی .کله چي هغه وزرونه وغوړوي پورته وغورځي نوسبحان الله!په هغه کي څرنګه ښائست بريښي اوڅومره ښکلی معلوميږي ،ددې برعکس په ماده کي هيڅ ښايست هم نشته،که دنن زمانې ومسلمان ته وګوري چي داخلک خوخپلې ږيرې

خروي يايې کوچنۍ کوي اوپه دې سره ځان ښائسته کوي يونرطاوس ته هم دافکروشي اوهغه هم خپل دنرعلامې لکۍ اودسرتاج پريکړي نوبه څه شي پاته شي هغه خوبه ماده طاوس شي.

دغه ډول دافريقادببرزمري حسن اورعب دهغه دوښتانو له امله دی، که هغه هم دافکروکړي چي ددنن زمانې مسلمان خوداوايي چي د نارينه نښاني وښتانوپه پرېکولوسره حسن راځي اوهغه خپل ويښتان کوم چي دنارينه علامه ده پريکړي نواياد هغه حسن به پاته شي؟او هغه به نرزمری پاته شي اوکه به ماده زمری؟.

## دګناه لومړی حمله دانسان پرعقل وي

ای دالله بندګانو !په ګناه کولوسره دانسان عقل ختميږي ،دګناه لومړی حمله دانسان پرعقل باندي وي په ګناه کولو اودالله تعالی په نافرماني کولوسره دنن زمانې دمسلمانانو عقلونه مسخ شوي دي، دښه اودناوړه دتميزکولوصلاحيت ختم شوی دی،هرښه شی بداو هر بدشی ښه برېښي،لکه دصفرا(ژړو )دغلبې په صورت کي خوږشي تريو معلوميږي اوڅوک چي مارخوړلی وي هغه ته دتريخ شي تريخوالی نه محسوسيږي دغه ډول کله چي دګناهونوزهرپه بدن کي ننوزي نوددې حمله پرعقل باندي وي .هغه بيادګټې او تاوان دامتيازصلاحيت دلاسه ورکړي .څرنګه چي دظاهري

زهرواثرپرظاهره حواسوباندي کیږي دغه ډول دباطني زهرويعنـــي دګناهـونـواثرپر باطني حواسواودهغه پر متعلقاتوباندي کیږي.

دفکرخبره ده چي الله تعالی په خپل مخلوق کي دنارينه حيواناتو په ويښتانوکي ښائست ايښی دی خودنن زمانې مسلمان داوايي چي دنارينه علامې دويښتانوپه پريکولوکي زينت دی.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

**سبحان من زين الرجال باللحى والنساء بالذوائب**

**(مستدرک حاکم)**

"پاک دی هغه الله چي نارينه يې په ږيرو سره ښائسته کړي او ښځې يې دسردويښتانو په کوڅيو سره ".

الله تعالی خوفرمايي چي دنارينه ؤزينت په ږيره کي دی ليکن دنن زمانې مسلمان وايي چي په ږيره خرولوکي ښائســت دی، ددې دنيـا تـولي خبـرې سرچپه شوې په بل حديث کي دي:

**ملائكة السماء تستغفرلذوائب النساء ولحى الرجال**

(رواه الديلمي في مسند الفردوسي)

"داسمان ملکې دکوڅی درلودنکومېرمنو اوږيرورو سړيولپاره دمغفرت اوبخښنې دعاکوي ".

داحقيقت ثابت شوچي په عقلي اعتبار يعني پرخارويو باندي د قياس اوحضرت رسول الله ﷺ دارشاداتوله نظره

الله تعالی دناړینه ؤ حسن په ړیره کې ایښی دی اوداخلک وایي چې دنارینه ؤزینت په ړیره خرولو کي دي .(ددې بیان په اورېدو ډېرخلک دږيرې خرولو له کبیره ګناه څخه توبه ګارشول، الله تعالی دي حضرت مفتي اعظم دامت برکاتهم په فیوضاتو کې نورهم ډېربرکت واچوي ـ جامع ).

ماخپل خوب بیانوی دبیت الله ددروازې مخ ته رسول الله ﷺ تشریف درلودزه یې ومخ ته پردووزنګنوناست وم یوڅوښائسته او غټ غټ مرغان دبیت الله دچت څخه زموږ ومخ ته راولوېده، دهغو څخه یومرغه بالکل زموږپه منځ کي راولوېدی چې وزربیې غوړولی ؤ، دهغه وزرهم ډېر ښائسته وو، دهغه پریوه وزرباندې په ډېرواضحو او ښکاره حروفو سره په ډېرښه خط :لاترکب الهواء اوپربل وزرباندې: کطیریطیرعلی الهوی؛لیکلي ؤ.

رسول الله ﷺ دغه مرغه په غیږکې واخیست اوماته متوجې شو ویې ویل :داعمل نامه ده عملونه ښیې "زه ډېر پرېشانه شوم چې والله اعلم دابه څه ووایې، رسول الله ﷺ زماپه پریشانی پوه شونویې ارشاد وکړ "اوس نه بلکه دقیامت په ورځ "په دې خبره سره زه مطمئن شوم چې اوس داعمالو داصلاح لپاره څه وخت شته .له دې وروسته په مې په خوب کې دحضرت والدصاحب رحمة الله علیه زیارت وکړمادهغه په خدمت کې داخوب بیان کړییامې ددې تعبیرهم خپله

بیان کړ: "دا په مسجد حرام کي پروېده کېدلو باندي تنبیه ده
،لومړی یې دنورطواف را ښکاره کړد بیت الله عظمت
اود بندګي شان یې راوښود ،بیاددې په بې حرمتۍ باندي
رسول الله ﷺ تنبیه وکړه .اودمرغانودوزرنودلیکنې څخه
دنفس اتباع باندي تنبیه وشوه د لاترکب الهوی مطلب دی
دنفس دغوښتنې پیروي جایزنه ده اوکطیریطیرعلی الهوی
مطلب دادی چي مرغه دنفس دخواهش له پیروي څخه په
جال کي بندېږي نومړشي "له دې وروسته چي بیدار شوم
نوپرماوېره غالبه وه ،ټول بدن مي په لړزه کي ؤ ،طبیعت چي
مي سره برابرشوفکرمي وکړنوهغه تعبیرمي په فهم کي
راغلی کوم چي په خوب کي مې دحضرت والد صاحب
رحمة الله علیه په خدمت کي کړی ؤ.دویري سره له دې امله خوشاله
هم شوم چي دادالله تعالی اورسول الله ﷺ څومره غټ احسان
دی چي پردې غلطي یې تنبیه راته وکړه ولي چي په زرګو نو
نراوښځې شپه اوورځ هلته ویده وي لیکن هغوئ خونه کوم
خوب ولیداونه کومه تنبیه ورته وشوه .وجه هغه ده چي
پرګناهونوباندي تنبیه وهغه ته کېږي چي دهغه په زړه کي
له ګناهونو څخه دځان ساتلو اهتمام وي له دې کبله بیاد الله
تعالی دده سره کومک اونصرت وي.

④ زه دلوړې سوېې دعلاج څخه همیشه ځان ژغورم
خویوځل الله تعالی دمعرفت دیودرس راکولولپاره دیوبین

الاقوامي مشهور اسپيشلست ډاکټرسره دکتنې يوه بهانه
راپيداکړه هغه زمابنه معاينه وکړه اودهاضمې داصلاح
لپاره يې يوه دوا "ټرائي زيمل "راته وليکله، ماچې کله هغه
دواوخوړله نومې په نس کې سخت درد پيدا شواو دقې
دوره راباندې راغله .مافکروکړچې دادواخودهاضمې
داصلاح لپاره ډېره مشهوره ده، بيايوبين المللي مشهور
اسپېشلسټ (متـــخـصص) ډاکټرليکلې ده او دليکلونه
مخکې يې زمابنه معاينه هم کړې له دې سره يې چپه
اثرولې وکړ؟
الله تعالی چې په دې کې دا "ريورس کير "لګولی دی په
دې کې يقيناًيوحکمت شته کله چې مې ددواپربښبنه
باندې ليکل شوې نسخه ولوسته نوترټولولومړۍ اوترټولو
اجزاؤچې په مقدار کوم جزء ډيرؤهغه "پنکری ارټين " ؤ دا
دخنزيريادغوايي د لبلبې څخه جوړېږي.
که دادواپه پاکستان کې جوړه شوې وای نوددې احتمال
پربنسټ باندې امکان وچې ددغه مرکب داجزبه هم په
پاکستان کې تيار شوی وای،له بهرنه دراواردولويقين نه
وواوپه پاکستان کې داسلامې ذبيحې مطابق دغوايي
دځګر څخه جوړشوي ؤخوپر دې ښيښه باندې "ميډان
جرمني "ليکل شوي ؤهلته که داجزء دغوايي له لبلبې څخه
جوړشوي وي نوداسلامې ذبيحې دنه وجودله امله هغه هم

حرام دي نوزه پوه شوم چي. الخبيثات للخبثين "خبيث شيان دخبيثو خلکو لپاره دي "زما کريم رب له حرامو څخه زما دساتنې لپاره دواته زيورس ګيرولګوی .په دی باندي ماته دوې خوشالی راپه برخه شوې يوه داچي په غيرشعوري ډول باندي هم الله تعالی وحلق ته دحرامې ذرې له تللوڅخه وژغورلم،دوهمه داچي بحمدالله تعالی زه د الخبيثات للخبيثين په فهرست کي نه بلکه دالطيبات للطيبين "پاک شيان دپاکو خلکو لپاره دي "په فهرست کي يم.

دځواب ددې مفصل تقرير خلاصه داده چي دالله تعالی داشان معامله له هغو خلکو سره وي کوم چي دګناهونو څخه دځان دساتلو اهتمام کوي.

درسول الله ﷺ په زمانه کي هغودومېرمنودغيبت له امله دوينو اوغوښوَقی وکړاويوسرې دغيبت وروسته غاښونه خلال کړل نو دغوښوريښې راووتلې،خونن هرسړی دبل په غيبت کولو کي بوخت دی له دې سره سره نه يوڅوک وينې اوغوښې قی کوي اونه يې هم له غاښونوڅخه دغوښو ريښې راوزي،ددې وجه داده چي دهغو معززواصحابو په زړونو کي داخرت دفکرله کبله دهغوئ سره دالله تعالی داخاص رحمت اونصرت ؤکه دهغوئ نه کله هم کومه غلطي کيدله نوژربه دالله تعالی له لوري ورباندي تنبيه

کېدل، دغه ډول نن زمان هم چي کوموکسانو ته داخرت فکر وي پرهغوئ دالله رحمت او ورسره نصرت اوکومک وي، هغوئ ته هم پرغلطي باندي دالله تعالی له لوري تنبیه کیږي.

## غیبت ترزناهم ناوړه

درسول الله ﷺ ارشاددی:

**الغیبة اشدمن الزنا**

(رواه الدیلمي والبیهقي والطبراني)

"غیبت ترزناهم بدتره دی".

ددې ډېرې وجوهاتې دي:

① غیبت په خوظاهراًپه ژبه کیږي مګرددې بنیادپه زړه کي دی له دې کبله چي کوم سړی غیبت کوي دهغه په زړه کي کبروي هغه خپل ځان غټ ګڼي اونورحقیراوخوارګڼي اوکبردالله تعالی سره شرک دی، الله تعالی فرمایي:

**(وَلَهُ الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ)**

"اولويي خوفقط دهغه لپاره ده په اسمانواوځمکه کي"

رسول الله ﷺ فرمایي:

**لایدخل الجنة احدفی قلبه مثقال حبة من خردل من کبر**

**(رواه مسلم)**

"وجنت ته به داسي کوم سړی داخل نه شي چي په زړه کي يې دپنبه دداني برابرکبروي".

دغیبت کؤنکي نظردنوروپرعیبونوباندي وي دهغه وخپلوعیبونو ته هیڅ توجه نه وي، له دې امله دهغه داصلاح فکرهیڅ نه کیږي، دچا چي پرخپلوعیبونوباندي نظروي اودهغه داصلاح فکرورسره وي نو هغه هروخت په دې فکرکي ویلي کیږي اوغرق وي چي معلومه نه ده سبا دقیامت په ورځ به زماڅه حال وي؟دهغه په زړه کي خودبل چاخیال هیڅکله نه راځي.

نه تهی حال کی جب همین اپنی خبر
رهی دیکهتی لوگون کی عیب وهنر
پڑی اپنی گناهون پرجونظر
تونگاه مین کوی برانه رها

ژباړه: کله چي موږدخپل حالت نه ناخبره ؤ، نو دنورو خلکوعیب او کمال مولټاوه، خوکله چي موبیاخپلو گناؤته یونظروکړنو هیڅ څوک موپه نظرکي ناوړه اوبدنه راغلل.

دنورودعیب پلټلویوناروغه یوځل دحکومتي چارواکو په اړه دا مصرع لوستله:

هرشاخ په الوبیتهاهی انجام گلستان کیاهوگا؟

"په هرښاخ باندي بم ناست دی دبڼ پای به څه وي؟"

هرسړی سیاسي مبصردی، دنوروپرعیبونویې نظروي، وخپلو عیبونوته یې کومه توجه نه وي. ماورته وویل: " دخپل ځان په اړه هم دافکرکوه چي زه هم دیوښاخ بم یم، بیا

دالله تعالی څخه داسي دعاکوه یاالله! زماحالات خودبم غوندي دي لاکن ستارحمت ډېرپراخ دی ، زمادا حالات دخپلو بندګانو دحالاتو غوندي جوړ کړي "

یوه ورځ د "فتح باغ" څخه دتفریح اومنظرې کولو وروسته راروان ؤ ،دمخ لخوادخره ګاډی راروانه وه چي دوه خره پوري تړلي وه هغو دواړو دليري نه په زوره زوره نعرې کړې،ماوخپلو ملګروته وويل : "داخره خوموږته دارابنيې چي تاسي هم زموږپه شان خره ياست ولي چي خرعموماً هلته رږغ کوي کله چي هغه يوبل خړوويني ،له دې کبله لږ خپله محاسبه،توبه اواستغفاروکړئ دانسان جوړېدلو هاند اوهڅې وکړئ ".

② ترزنادغيبت دناوړتوب دوهمه وجه داده چي زناکول پټه ګناه ده اوغيبت دټولو په مخکي په ښکاره سره کيږي اوکومه ګناه چي په ښکاره سره کيږي هغه ترپټې ګناه ډېره ناوړه ده،رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

**کل امتی معافی الاالمجاهرین**

(رواه البخاري والمسلم)

"زماټول امت دمعافېدلووړدی خوپه ښکاره ګناه کوُنکی به معاف نشي".

③ دزناڅخه دتوبې اميدکېدلای شي،فرضاًکه دتوبې توفيق نه وشي نولږترلږاقراري مجرم خودی،خپل ځان خو ګنهګارګڼي ښايي چي ددې عجز،انکساراودجرم داقرارله

وجې ده ته مغفرت وشي لیکن دغیبت څخه دتوبې امید ډېرلږدی ولي چي غیبت کوُنکی خپل ځان هیڅ ګنهکار نه ګڼي، بلکه ډېرنیک اوغټ پاکدامن یې ګڼي. زناهرسړی بد اوناوړه عمل ګڼي، له دې څخه دځان ژغورلو کوښښ کوي اودځان لپاره ددې نوم اوریدل هم نه خوښوي نوغیبت چي ترزناهم بدتره دی داولي بدنه ګڼي؟اوله دې څخه دځان ساتلوولي اهتمام نه کیږي؟.

**دعزت غل دمال ترغله ناوړه :**

شرعاًاوعقلاًدشپږوشیانو ساتل اړین دي:

① **ایمان :** ترټولووړاندي دایمان دحفاظت درجه ده،ددې لپاره که څه هم ځان،عزت اومال ټوله قربان کړل شي نوبیاهم دایمان حفاظت فرض دی.

② **ځان :** دوهم نمبردځان حفاظت دی.

③ **عقل :** دریم نمبردعقل حفاظت دی.

④ **نسب :** څلورم نمبردنسب ساتل دي.

⑤ **عزت :** پنځم نمبریاندي دعزت ساتنه ده.

⑥ **مال :** شپږم نمبربیادمال دحفاظت حکم دی.

اوس فکروکړئ کوم سړی چي دیوچامال ته تاوان رسوي ،هغه ته ډېربدویل کیږي چي داخوغټ ظالم دی، ډاکو دی، لیکن کوم سړی چي د یوچاغیبت کوي هغه دده وعزت ته تاوان رسوي،مالي تاوان رسوُنکی خودمال ډاکودی او

غیبت کوونکی ترهغه زیات دقیمتي شي یعني دهغه دعزت غــل دی، نــو فکــرو کړئ چي دمال غل ډېرناوړه دی اوکه دعزت ډاکو؟.

## دآخرت مفلس

یو ځل رسول الله ﷺ دمعززو اصحابو ﷺ څخه وپوښتل:

"مفلس څوک دی؟"

اصحابو ﷺ ځواب ورکړ:

"له چا سره چي روپۍ او پیسې نه وي!

رسول الله ﷺ وویل:

"نه ازه یې درښیم چي مفلس څوک دی؟دقیامت په ورځ به بعضي خلک په داسي حالت کي راځي چي ددوئ په عمــل نامه کي به لمونځ، زکوة، روژه، حج، تهجد، داشراق، څاښت لمنځونه، صدقه اوخیراتونه لیکل شوي مطلب دا چي له ټولو عباداتو څخه به ډکه وي خو کله چي دحساب او کتاب وخت پیل شي نو یوې خواته به یو سړی ودرېږي او وبه وایي یا الله !دې سړي زماحق تلفي کړېده، الله تعالی به ددې په بدله کي له دې ظالم څخه عبادتونه دمظلوم په عمل نامه کي واچوي، دغه ډول به یوبل سړی ودرېږي اووبه وایي یاالله !دې پر ما باندي ظلم کړی دی، الله تعالی به په هماغه ډول ددې بل مظلوم په عمل نامه کي ددې ظالم دصالــح اعـمـالو څـخه ورواچوي، دغـه شان به ډېرخلک

دخپلو خپلو حقوقو مطالبه کوي، الله تعالی به ددغو ټولو حقوق ددې ظالم له اعمالو او عباداتو څخه بشپړ کړي، تردې چې دده ټول عبادتونه به ختم شي خو دحقوقو دعوی به ختمه نه شي نو الله تعالی به ددوئ ګناهونه دده په عمل نامه کې واچوي، چې ددې له کبله به هغه سړی ودوزخ ته داخل کړل شي، همدا سړی مفلس "دی.

(رواه مسلم والترمذي)

## داعمالو محاسبه

اوس دې هر سړي دخپلو اعمالو موازنه او محاسبه وکړي چې زموږ په صالح عملونه څومره دي، بیادې اعمالو کیفیت یعني په دې کې روح څومره دی اودنوروحق تلفي مو څومره کړې ده؟ شپه اوورځ په غیبت کې بوخت یو.

په داسې صورت کې به زموږ عملونه موږ دجنت لورې ته بیایي او که ددوزخ لورې ته؟.

رسول الله ﷺ وفرمایل:

"کوم سړی چې په دنیاکې دخپل مسلمان وروروغوښې خوري یعني غیبت یې کوي دقیامت په ورځ به دمرداري غوښې وده ته ایښودل کیږی اووړته ویل کیږي به چې څرنګه تاژوندی خوړلی ؤاوس دغه مړی هم وخوره. هغه سړی به داوخوري، نفرت او بیزاري به کوي اوناري به وهي.

(روقاه ابویعلی قال ای فظ بن حجر سنده حسن)

په یوبل حدیث کې درسول الله ﷺ ارشاد دی:

"دمعراج په شپه کې زه پر دیو داسې جماعت تېرشوم چې خپل مخونه یې په خپلو نوکانو سره پرېکول، دا هغه خلک ؤ چې غیبت یې کاوه .(رواه ابوداؤد)

په دې مضمون کې دغیبت دعذاب په باب په متفرق ډول ډېر حدیثونه بیان شوي دي اوس هغه ټول یو ځای په نمبر سره درته بیانوم چې یادول یې اسانه وي.

## پرغیبت باندې دعذاب حدیثونه

① دغیبت له امله ددووښځو په نس کې دردشوا وپه قي کې یې وینې اود غوښې ریښې راووتلې .(مسنداحمد)

② ځینې خلکو دغیبت نه وروسته په غاښو کې خلال وکړ نو د غوښو ریښې ځینې راووتلې .(الدرالمنثورللسیوطي)

③ یوې مېرمنې له غیبت وروسته وتوکل نو دغوښو ټوټه ځنې را ولوېدله .(ایضا)

④ غیبت ترزنا هم بدتره دی .(رواه الدیلمي)

⑤ مفلس هغه دی چې دقیامت په ورځ دعباداتوذخیره راوړي خو پرنوروباندې دظلم کولوله کبله ودوږخ ته ورولوېږي .(رواه مسلم والترمذي)

⑥ په غیبت کوُنکی به دقیامت په ورځ دمردارشي غوښې خوړل کېږي .(رواه ابویعلی)

⑦ رسول الله ﷺ دمعراج په شپه غيبت كوٗنكي په هغه عذاب كي بوخت وليدل چي هغوئ په خپلو نوكانو سره خپل مخونه پرپكول. (ابوداؤد)

## دغيبت دنيوي تاوان

په غيبت سره فقط اخرت نه ورانيږي بلكه له اخرت سره سره دنياهم بربادیږي په غيبت كي ډېردنيوي تاوانونه دي مثلاً:

① غيبت په خپل منځ كي دبې اتفاقی او اختلاف بنسټ دی. غيبت ددښمنی پلارهم ذی اوزوی هم، يعني كله د غيبت څخه دښمني پيدا كيږي او كله ددښمني څخه غيبت. زياتره دغيبت له امله دخلكو په منځ كي اختلاف، بغض اوكينه پيدا كيږي اوبيا په خپل منځ كي داړيكو دختمولو نوبت راشي .دتعلق دختمولو حرام كېدل اوله دې څخه ددين اودنيا تاوان ټولو ته معلوم دی.

② دغيبت كوٗنكي په زړه كي بزدلي اودوه مخي پيدا كيږي،د بزدلی له كبله هغه دخلكوعيبونه دهغوئ ترشا بيانوي.اوكله چي ورسره مخامخ شي نودهغوئ تعريف كوي،بياهغه دغه حركت ژر ښكاره شي نوپه خلكوكي خوارشي.

③ كوم سړی چي ديوچاپه مخكي ديوبل سړي غيبت كوي هغه يقيناً دنوروپه وړاندي ددې سړي غيبت كوي

دکوم چاپه مخکي چي يې اوس دبل چاغيبت وکړ،دغه ډول داسړی دخلکوپه منځ کي فتنه او فسادراولي.کله چي داحقيقت ښکاره شي چي ټوله فتنه دې پيل کړې نوټول دده دښمنان شي.

③ له غيبت کولوڅخه دځان ژغورلونسخې (طريقې):

① دخپل ژوندبايدمحاسبه وشي چي تربلوغ وروسته تر اوسه پوري مې دڅومره خلکوغيبت کړی دی؟په فکرکولو سره به دا معلومه شي چي دداسي خلکوشمېربې حسابه دی ،دکوموچي تاغيبت کړی دی،ستادښواعمالومقدارچي څومره دی ترهغه څو چنده زيات تا غيبتونه کړي دي،ددې محاسبې وروسته فکروکړه چي لومړی خو زموږنيک عملونه څومره دي؟اوچي څه دي هغه به دغيبت له امله په آخرت کي زموږپه ښه راشي بلکه وهغه خلکوته به ورکول کيږي دکوموچي موغيبتونه کړي دي،دغه ډول موږ وهغوئ ته فايده ور رسؤ اودخپل ځان تاوان کوو،خپل ټول محنت اوټوله ګټه ونوروته ورکوو اوپه داسي سخته مرحله کي يې ورکوو کله چي موږخپله دپرسخت محتاجه يو.

② دغيبت کولوچي څومره عذابونه بيان شوي دي ددغو ټولوهره ورځ مراقبه وکول شي،ددې نسخې په استعمال سره به ان شاء الله تعالی دغيبت پرېښودلوهمت پيداشي.

**④له غیبت اوریدلوڅخه دځان ژغورلونسخې :**

بعضې خلک وایې : "مورږخوله غیبت کولوڅخه ځان ساتومګرکله چې یوبل څوک دبل چاغیبت پیل کړي نونه هغه پته خوله کولای شواونه له هغه ځای څخه ولاړیدای شو ،دبل مراعت راباندي غالبه شي "په دې اړه دافکروکړئ "یوسړی ستاپه غوږ کې یوه بده خبره دراچوي ګواکې هغه دخپل لوښي مرداري ستاپه لوښي کې دراچوي.

داله غیبت اوریدلونه دځان ژغورلودېره عجیبه اودېره قیمتي نسخه ده دېره ګټوره ده.لږپه غورسره فکروکړئ که ستایوغټ حاکم یاافسریاستامورا وپلار، ورور، خور، ښځه یاخاوندیادنوروقریبانو اودوستانوڅخه یوڅوک داسي ووایې:

"زه ستاپرسرباندي بولی کول غوارم، که ته زماخبره نه منې نوزه خفه کیږم".

نوایایوڅوک داسې همت کولای شي چې دهغه دخفګان څخه د ځان ساتلولپاره وهغه ته پرخپل ځان دبولو کولو اجازه ورکړي،حال دا چې ددې په اجازه کې ستاکوم دېر تاوان نشته،فقط ستاجامې اوبدن به ناپاکه شي چې بیایې په پریوللوسره په اساني پاکولای شې؟

خوکه دې ویوچاته په خپل حضورکې دغیبت کولواجازه ورکړه نو په دې کې ستادین بربادشو ،آخرت دی بربادشو ،

دُدنیادلږتاوان زغلموهمت خودیوچاپه زړه کي پیدانه شي خوددین اوآخرت د خرابولوهمت پیداشي دادېره تاواني اودکم عقلۍ خبره ده.

## له غيبت اوريدلوڅخه دځان ژغورني يوه ددرس وركونكي واقعه

حضرت والدصاحب رحمة الله عليه وفرمايل:

"یوځل یومولوي صاحب زماپه مخ کي دیوچاغیبت پیل کړ،ما ورته وویل: چي ته دکوم چاغیبت کوې که حقیقتاً له هغه څخه دا غلطي شوې وه نودادتیري شوې زمانې خبره ده اوله ماڅخه غائب دی اوته همدااوس زماپه مخ کي دغیبت ګناه کوې."

زه دحضرت والدصاحب رحمة الله عليه ددې مختصرځواب تشریح کوم او په نمبرسره یې درته بیانوم چي یادول یې اسانه دي:

① هغه په تېره شوې زمانه کي ګناه کړېده اوته اوس ګناه کوې.

② هغه به په پټه ګناه کړې وي یالږترلږه زماڅخه پټ دی اوته زما په مخ کي په ښکاره ګناه کوې، په ښکاره ګناه کول ډېرناوړه عمل دی.

③ هغه به وړوکې ګناه کړې وي اوته دومره لویه ګناه کوې چي ترزناکولوهم بدتره دی.

④ هغه به ګناه کړې وي ځان به حقیر ګڼي او ته خپل ځان غټ ګڼې ځکه خو دهغه بدي بیانوې.

⑤ ښایي هغه له ګناه څخه توبه کښلې وي او ته اوس په ګناه کې بوخت یې.

⑥ زما په مخ کې دهغه دګناه شاهدته خپله یې او ته دغیبت دګناه له کبله فاسق شوې، له دې کبله ستا شاهدي دقبلیدلو وړنه ده او ستا ګناه زه خپله په خپلو غوږونو اورم ته راته ووایه چې هغه دېربدشو او که ته؟

له غیبت اوریدلو څخه دځان ساتلو ددې پیښې څخه سبق حاصل کړئ کوم څوک چې دیوچا غیبت پیل کړي وهغه ته دا شپږنمبره بیان کړئ او هغه ته داسي ووایاست:

"ته دغیبت له کبله فاسق شوې او دفاسق شاهدي قبوله نه ده".

الله تعالی وایي:

﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِن جَاءَکُمْ فَاسِقٌ بِنَبَأٍ فَتَبَیَّنُوا﴾(۴۹-۶)

"ای مؤمنانو! کله چې یو فاسق وتاسو ته یو خبرراوړي نو دهغه پلټنه وکړئ پرته له کومه تحقیقه خبره صحي مه ګڼئ."

## دېراسانه تدبیر

له غیبت اوریدلو څخه دځان ژغورلو چې کوم تدبیرونه دربنودل شوي دي که له دغو څخه پریوه باندي هم دعمل

کولو هــــمت نه وي نو يو اســــانه تــدبيردادی چي وغيبت کوٶنکی ته داسي ووايه:
"تاسي چي دکوم چاغيبت کوئ ښايي هغه دالله پاک په حضورکي ترموږښه وي".
که چيري دموږويلو همت نه وي نوداسي ويلاسئ: "هغه ترماښه دی" نوقوي اميددی چي په داسي ويلوسره به هغه دغيبت کولونه ډډه وکړي،که غيبت بندنه کړئ نوتا دناخوښي اظهاروکړ،آئنده هغه ستا په مخ کي غيبت نه کوي.

## له هرې فضول خبرې څخه دځان ساتلواسانه نسخه

که په مجلس کي غيبت ياکومه داسي خبره پيل شي چي په هغه کي نه ددين ګټه وي اونه ددنيانوته دکارخبره شروع کړه،دغه ډول ډېرپه آساني سره دخبرې مخ اړولای شې.
دغيبــت کــولـواواورېدلوڅخه دځان ژغورلوچي کومې نسخې درښودل شوې دي په استعمال کي يې له همت.نه کارواخله ترڅوچي انسان دهمت نه کارنه اخلي هيڅ کوم تدبيرهغه ته ګټه نه رسوي.

## يوه له پنده ډکه کيسه

دهمت څخه دکاراخيستلوپه صورت کي دغيبت نه دځان ساتلويوه کيسه واورئ ديوې مېرمنې مکتوب راغلی دی هغه درته اوروم داليکي:

"ماترډېره وخته دنوروانسانانوغیبت کاوه اوهم مې له بــل څخه اورېـــده ،همیشه ددوستانواوقریبانوتګ راتګ ؤ ،هــرڅـوک چــي به راغلل دیونه یوچاغیبت به پیل شو ، هر وخت به دغیبت بازارتود ؤ ، اوس چي دکله نه دحضرت صــاحب(فــقیــه العــصرحضرت مولانا مفتي رشیداحمد صاحب لدهیانوي رحمة الله علیه ) دوعظ اورېدلوڼاره تلل پیل کړي اودغیبت په اړه مي وعظ اورېدلی نوله ماسره فکر پیداشوچي زه په څومره غټه ګناه کي بوخته یم ددې فکرله کبله زمادشپوخوب والوت اواوس مي پخه اراده کړې ده چي هیڅکله هم دیوچاغیبت نه کوم."

فکروکړئ چي دې مېرمنې دوعظ په اورېدلوسره دغیبت څخه توبه وکړه،دغه ډول ډېروزنانه ؤوعظ اورېدلی او شرعي حجاب یې خپل کړی نودنوروخلکوداعذرچي زموږ څخه ګناه نه پاتېږی دقبول وړنه دی،هغه هم انسانان دي او تاسي هم انسانان یاست او هغوئ هم په دغه چاپېریال کي اوسیږي په کوم کي چي تاسي هستوګن یاست له دې سره سره چي هغوئ ګناه پرېښولای شي نوتاسي یې ولي نشي پرېښودلای؟

که کله دښځوپه خپل منځ کي جګړه وشي نوهره ښځه غواړي چي هغه ترنوروړاندي شي که یوه ښځه بده خبره ورته کوي نودابه لس ورته اوروي،دغه ډول دفیشن په

معامله کي که يوه مېرمن دسلو روپوجوړه اغوندي نوبله به ددووسوو داغوستلو کوښښ کوي،دغه رنګه ددنياپه هره معامله کي ديوې پربلې باندي لوړوالی اومخ ته تللو هانداوهڅې کيږي،ددين په معامله کي دداسي کولولپاره همت ولی نه اوچتيږي؟.

## دکوموخلکوچي غيبتونه شوي يااورېدل شوي له هغوئ څخه دمعافي غوښتلو طريقه

اوس پاتي شوه داپوښتنه چي کوم غيبتونه شوي دي هغه به څه کؤ؟ددې دعذاب څخه دځان ژغورلولپاره دافکر وکړئ چي دبلوغ نه وروسته تراوسه پوري چي دکومو کوموخلکوغيبتونه درڅخه شوي دي،له هغوئ څخه چي کوم خلک ژوندي دي اوورسره دبې تکلفي معامله ده هغوئ ته دامه وايه چي ستاغيبت مي کړی دی ولي چي له خبرېدو څخه به په تکليف شي له دې کبله هغوئ ته فقط دومره ووايه : زموږ اوستاتردېره وخته يوځای ناسته ولاړه شوېده،کيدای شي يودبل په حق کي کومه کوتاهي شوې وي،نوزمالخواچي کومې کوتاهيانې شوي دي هغه معاف کړه .اوکوم کسان چي اوس ژوندي نه دي يا ورسره دبې تکلفي معامله نه ده دهغوئ لپاره دمغفرت دعا او هره ورځ درې ځله داخلاص سورة ولوله دهغوئ لپاره دايصال ثواب عادت خپل کړه ،ان شاء الله په داسي کولوسره به دخلکو

هغه حقوق چي دغيبت له امله ستا پر ذمه او ستا لپاره عذاب دی هغه به جبیره شي دالله تعالی څخه هم استغفار کوه او د کومو خلکو په مخکي چي دي غيبت کړی دی د هغو په مخکي توبه وکاږه که د داسي کسانو علم نه وي و هر سړي ته ځان رسول ستونزمن وي نو د توبې عام اعلان وکړه.

الله تعالی دي موږ او اړه له خپلې رضا سره سم رښتين او پاخه مسلمانان جوړ کړي، د خپل او د خپل حبيب ﷺ محبت را په برخه کړي، په ټولنه کي چي څو مره ګناوې ننوتلي دي د ټولو څخه دي زموږ حفاظت وکړي، په خپل منځ کښي مينه، الفت، تعاون او تناصر پيدا کړي، دي و بل له غيبت او بد ګماني څخه موو ژغوري.

وصل اللهم وبارک وسلم علی عبدک ورسولک محمد وعلى آله وصحبه اجمعين والحمدلله رب العلمين.

دژباړې دپای نېټه

يوم الجمعة

۱۴۲۷ هـ ق ذی القعده ۱۲

١

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ

# جزاء الاعمال


مؤلف

امام العارفین حکیم الامہ حضرت مولانا شاہ محمد اشرف علی تھانوی نور اللہ مرقدہ

مترجم

مفتی محمد معصوم افغانی



مکتبہ حکیم الامت تھانوی

کاسی روڈ کوئٹہ

٤

وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ

# شرعی حجاب

وعظ


شیخ المشائخ فقیہ العصر مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی رشید احمد لدھیانوی

رَحِمَهُ اللهُ تَعَالىٰ


ترجمہ او حاشیہ



مفتی محمد معصوم افغانی



مکتبہ حکیم الامت تھانوی

عارف روڈ کوئٹہ

# مطبوعات مکتبه حکیم الامت تهانوی رح




د تعلیم الاسلام ویب پاڼې د همکارانو له خوا پر لیکه کیږي:
www.taleemulislam-radio.com